بُست پوهنتون

د انجنیری پوهنځي

سیول څانګه

# د سیول څانګي د ۱۴۰۲ کال د تطبیقی پلان د تطبیق راپور

| ترتیب کونکی | نوم | دنده | تلیفون شمیره |
|---|---|---|---|
| | عزت الله سلطاني | د سیول څانګی امر | 0708973938 |

**کال:**

**۱۴۰۲**

# لرلیک

د پیل خبري : ........ 2
د (۱۴۰۲) کال په جریان کې تر سره سوي کړني: ........ 3
الف: دتطبیقي پلان له مخې ترسره سوي کړني: ........ 3
ب: هغه کړني چې دستراتژیک پلان د تطبیقي پلان څخه بهر ترسره سویدي: ........ 4
هغه کړني چې پلان سوي وي او نه دي ترسره سوي : ........ 4
هغه کړني چې تر لاس لاندي دي: ........ 4
د کار په بهیر کښې ستونزي: ........ 5
وړاندیزونه : ........ 5
د سیول څانګي د تطبیقی پلان کلنی راپور تاییدي : ........ 5

## د پیل خبري :

دسیول ځانګي امریت خپل ددندو دلایحی او عملیاتی پلان مطابق ټول فعالیتونه په درست او سمه توګه اجرا کړی دی. دپوهنتون او پوهنځي درهبری مطابق ورسپارل سوی کارونو ته وخت په وخت رسیده ګی سوی ده .

داچی بُست پوهنتون داکاډمیک اعتبار اخیستلو لپاره دریم پړاو لپاره کاندید دی نو د انجنیری پوهنځی او سیول ځانګي رهبری استادان او کارمندان په خپل پوره توان سره کوشش کړی چی نموړی (۱۱) ګونو معیارونو اړوند اسناد ترتیب او تنظیم کړ ی.

د پوهنتون د مشترک اصلاحي پلان پر بنسټ د پوهنځی اصلاحي او د اسنادو جوړولو پلان د پوهنځی د ریاست او تدریسي مدیریت له خوا ترتیب او په لاره واچول سو. د پوهنځي د ټولو استدادانو له خوا د معیارونو مطابق د تدریس د ښه والي پلانونه د ځان ارزوني د راپور پر بنسټ د موجوده ستونزو د رفع کولو او د قوي ټکو پر تمرکز باندي جوړ او عملي شوی دی. هر استاد پر خپل ټاکلي وخت په ډیپارټمنټ کي حاضرشوی او د محصلینو د مراجعې په صورت کي پر ټاکلو موضوعاتو بحث، لارښوونه او همکاري شوی ده. ، ډیپارټمنټ او ازموینو کمیټې د پلان مطابق د ۱۴۰۲ کال د دواړو سمسترونو ( پسرلنی او خزانی سمسترونو) ٪۲۰ او پاینل ازموینی د لایحې مطابق پرټاکلی وخت اخیستی دی د سوالونو جوړول او د ازموینو اخیستل او د نهایي پایلو اعلانول ترسره شوی، د تحقیق په معیاري طریقه د څیړنی په منظور د مسلک، سیمي او عصر د غوښتنو مطابق دوو تنو استادانوته د مقالی د لیکلو موضوع و ټاکل شوه، د پوهنځی، ډیپارټمنټ او کمیټو د چارو د سمون او اصلاحاتو اړوند د پوهنځی د رئیس په حیث د جلسو ریاست کول او د اجنډا مطابق په پریکړو او تصامیمو کي ونډه لرل ترسره شوي دي، پر عدالت او شفافیت ولاړي د عادلانه ازموینې اخیستلو په منظور د چارو څارنه، شکایاتو ته رسیده ګي او مسؤلینو ته لازمي سپارښتني شوي دي، د منظم تحصیلي بهیر، د ظرفیتونو د لوړوالي اطمنان او د استادانو د میتودونو د سمون په منظور د نصاب کمیټې سره په همږغی د استادانو د فعالیتونو او تدریس څارنه شوی ده، د ستونزو دحل، د نظم د برقرراوالی او د نوښت او پرمختګ لپاره د لاری هواریدوپه منظور د محصلینو د نمایندګانو سره جلسې، په صنفونو کي د محصلینو سره مخامخ خبري او همدارنګه د انفرادي مراجعه کوونکو محصلینو ستونزي هواری شوي دي، د چارو د منظم بهیر، د ستونزو د حل لاري را ایستلو او لارښووني د عملي کولو په منظور اونیزاو د ربعی او راپورونه کتل شوی، د نواقصو لپاره سپارښتنه شوی او وړاندیزونه په نظر کي نیول شوي دي، د ظرفیتونو لوړوالی او د نوښتنو لپاره د لاري هواریدلو اړوند د ډیپارټمنټ او PDC سره په همږغی د محصلینو او استادانو لپاره پروګرامونو طرحی، همږغي او عملي شوي دي، د کیفیت لوړوالی، د اسنادو منظم والی او شفایت منځته راتلو په منظور د ټولو کمیټو چاري ، اسنادو او فعالیتونو کتنه شویده، شکایات اوریدل شوی او د ستونزو او نواقصو د حل سپارښتنه شویده، د منظم اداري بهیر، د کیفیت او موثریت رامنځته کولو او د اسنادو د ښه ترتیب په منظور د مراجعینو د کارونو خلاصول، د مکتوبونو کتل، امضا کول او لارښووني او د ورځنیو چارو څخه کتنه ترسره شویده او د رهبری سره د همږغي، د هدایاتو تطبیق د نواقصو اصلاح په منظور اونیز او ربع وار راپورنه ترتیب او لیږل شوي دي.

د سیول ځانګي د ۱۴۰۲ کال د تطبیقي پلان د تطبیق راپور چي د کال مهم فعالیتونه، اوکوم فعالیتونه چی په جریان کی دي او همدارنګه د فعالیتونو د ترسره کولو په وخت کی د کومو ستونزو سره موږ لاسه او ګریوان یو ،پدی راپور کی ستاسو سره شریکوو.

د (۱۴۰۲) کال په جریان کې تر سره سوي کړني:

الف: دتطبیقي پلان له مخې ترسره سوي کړني:

1. د استادانو د ظرفیت لوړوالي :

د سیول څانګې په تطبیقي پلان کې په نظر کی نیولې وه چې په ۱۴۰۲ کال لومړي ربع کې په پلان کې چې استادانو ظرفیت لوړوني ته به اولیت ورکو پدي وتوانیدو چې د دلوي په میاشت کښې د استادانو لپاره د Revit Architecture 6 ورځني ورکشاف دایر کړو.

2. د کیفیت تضمین د خدماتو پیاوړي کول او اکاډمیک اعتبار اخیستل :

- بْست پوهنتون. د لوړوزده کړو وزارت کې د دریم پړاوو اعتبار اخیستو ته اماده کې نیسی. چې خپله یاد پوهنتون شپږ پوهنځي لري چې باید ټوله پوهنځي امادګي ورته ونیسي چې ددي له جملي څخه د انجنیری پوهنځي هم ورته کاندیده چې باید اسنادونه ورته پوره کې چې خوشبختانه یادي پوهنځي د سیو ل څانګې خپل ټول کارونه ۹۰٪ خلاص کړي دي .
- په هرسمستر کی د استاد د ځان ارزونه د محصل په وسیله ترسره سوی راپور او فیډبک یی دیپارتمنت ته سپارل سوي دي.اوهمدارنګه استادانو ارزونه د دیپارتمنت له لوری ، د پوهنځی د رئیس له لوری او د پوهنتون د تضمین کیفیت د امریت له لوری ترسره شوی او فید بک استاد ته سپارل شوی دی.
- د تدریس د ښه والی پلان د فیډبک او عملیاتی پلان په اساس جوړ سوی او دیپارتمنت ته سپارل سوي دي.

3. د تحصلي نصاب اصلاح او څارنه:

د انجنیری پوهنځي سیول څانګي د سمستر په شروع او اخر کي د تحصلي نصاب بیا کتنه او اصلاح لري چي د ۱۴۰۲ کال بهاری سمسترکي خوشبختانه چي دا کارونه مو خلاص کړی چي د هغو له جملي څخه د چپتر او کتابونو حجم معلوم او وروسته د سمستر په پاي کي مو د تحصیلي نصاب بیاکتني فورمي وویشلي چي راپور تکمیل او د پوهنتون د نصاب کمیټی ته لیږل شوی دی.

4. د تکنالوژي څخه استفاده کول :

ټوله استادان د تکنالوژي (کمپیوتراو پراجکتور او بریښنایي کتابتون)څخه استفاده کوي

5. د کورس پالیسي د تطبیق څخه څارنه :

د انجنیری پوهنځي سیول څانګی په خپل ستراتژیک پلان کی یاده موضوع پلان کړی وه چی د پلان سره سم د پوهنځي د نصاب فرعی کمیټی د کورس پالیسی د تطبیق څخه څار ترسره کړ چی موږ وکولاسو چی پوښو د استادانو درسونه تر کومی کچی د کورس پالسی مطابق دی چی د نصاب کمیټی یاده اروزونه ترسره سوه چی خوشبختانه یاده ارزونه ښه ترسره سوه.او لاندی نتایج ترلاسه شوی

- د کورس پالیسیو مطابق په نظری او عملی ډول تدریس ترسره شوی دی .
- په محصلینو باندی په صنف کی د مضمونونو اړوند انفرادی او ګروپی کارونه اجراشوی دی.
- محصلینوته د مضمون اړوند کورنی دندی سپارل شوی دی .
- په محصلینو باندی د مضمون اړوند صنفی پروژی /سمینارونه اجراا شوی دی.
- په مشورتی درسی ساعتونو کی د محصلینو سره مرسته شوی ده.
- د سمسترمنځني او اخری ازمویني اخستل سوی پایلي یی محصلینو او دیپارتمنت ته سپارل شوی دی .
- درسی چپترونه اصلاح د کریکولم د مفرداتو په اساس په نوی موضوعاتو سره غنی شوی دی .
- د مضامینو کورس پالیسیانی ترتیب سوی، محصلینو ته تشریح او سپارل سوی او د هغه مطابق تدریسی بهیر مخ وړل سویدي.

- انفرادی عملیاتی پلانونه ترتیب او دیپارتمنت ته سپارل سوي دي.
- د نصاب د کمیتی له لوری د کمیتي ټولی چاری ترسره سوي دي.

6. د محصلینو عملي کارونه :

ب: هغه کړني چي دستراتژیک پلان د تطبیقي پلان څخه بهر ترسره سویدي:

1. د انجنیری پوهنځی ممتاز محصلینو د سمینارونو لړی :

د انجنیری پوهنځي په تیر سمیسټر کی د محصلانو د سمینارونو لړي را پیل کړه چي خوشبختانه په کامیابی سره پایته ورسیده ، او په دی سمسټر کی به هم دا لړی د سمسټر په پایی کی به هم ترسره شی.

2. دځانګو دستراتژیک پلان اړوند سیمینار د سکتور، برحاله، فارغ محصلینو او استادانو ته وړاندي سوی دی.

د انجنیری پوهنځي د ډیرو هلي ځلو او کوښښ نه وروسته خپل پنځه کلن ستراتژیک پلان په لومړي ربع کي تکمیل کړچي ځیني پروسیجر یي پاته وه چي یو له هغه څخه اړوند سکتور ته ستراتژیک پلان وړاندي کول چي خوشبختانه یاد پلان مو اړوند سکتور، برحاله ، فارغه محصلینو ته د تیر کال په څلورمه ربعه کی وړاندي کړ.

3. د چاپیریال ساتنی نړی واله ورځ ولمانځل شوه.
4. دسیول ځانګی دلیړلید او ماموریت سیمینار وړاندی شو.

هغه کړني چي پلان سوي وي او نه دي ترسره سوي :

1) د علمي څیړنیزو پراخوالي :

د انجنیری پوهنځي سیول ځانګي خپل په پنځه کلن ستراتژیک پلان کي علمي څیړنیزو پراخوالو ته ځاي ورکړي دي ترڅو استادان او محصلین دواړه وکولاسی چي څیړنه ترسره کړي دا چي ۱۴۰۲ کال شروع ده او پلان هم نوي جوړ شوي دي نو د ځینو مصرفیتونو له وجي ونتوانیدو ترڅو راکول سوی ټارګیټ مکلمل پوره کړو د انجنیری پوهنځی د رئیس د دوو استادانو مقالی جوړی شوی چی د بست پوهنتون دعلمی او څیړنیزی مجلی په لومړی ګڼه کی نشر شوی دی .

2) د تشکیلاتو پراختیا :

د انجنیری پوهنځي سیول ځانګه په پلان کی درلود چي د یادي پوهنځی ټول بستونه کادري کړو او کون امتیازات چي و کادري ته دي هغه امتیازات دوي ته هم ورکول سي نو د انجنیری پوهنځي همیشه هڅه کوي ترڅو دیادي پوهنځي ټول بستونه کادري سي او پروسه ییي ښه شفافه شي په راراونه ربع کي پلان شته چي دیادي پوهنیځي بستونه اعلان ته وسپارل شي.

3) : د ټرینګونو او ورکشافونو دایرول :

د انجنیری پوهنځي سیول ځانګي د خپل ستراتیژیک پلان مطابق په منظم ډول ټرینینګونه او ورکشافونه دایر کړي دي چي له جملي څخه یي د Revit Architecture 6 ورځني روزنیز وړاندي سو .

هغه کړني چي تر لاس لاندي دي:

1. د تشکیلاتو پراختیا:

د انجنیری پوهنځی سیول ځانګه کوښښ کوي په راتلونکي کښي خپل تشکیلاتو ته د پلان مطابق پراختیا ورکړي .

2. د انجنیری پوهنځی سیول ځانګي خپل محصلینوته د عملی تدریس په موخه د ناوی دسړک د ترمیم لپاره د سروی چاری شروع کړی دی.
3. د علمي څیړنیزو پراخوالي .
4. محصلینو سره ګروپي کار او کتابتون ته بیول

د کار په بهیر کښې ستونزې:

1. د سیول ځانګې ستراتژیک پلان نه تطبیق کیدل :
2. د نوو صنفونو نه جوړیدل.
3. د پوهنځي داستادانو کارونو کی کمه علاقه ښودل:
4. و فرعي کمیټو ته د استادانو کمبود :

وړاندیزونه :

1. د پلان او راپور د چمتو کولو په تړاو که یو سمینار دایر سی ښه به وی

د سیول ځانګې د تطبیقی پلان کلنی راپور تاییدي :

پورته راپور د سیول ځانګې په(     /     /۱۴۰۲) نیټه او (     )ګڼه غونډه کی تائید سو.

پورته راپور د پوهنځي د علمی شورا د کمیټی په(     /     /۱۴۰۲) نیټه او (     )ګڼه غونډه کی تائید سو.

د پوهنځی د علمی شورا مسؤل نوم : ولی جان سروری ، لاسلیک............................................